


## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : ارګ یا مرګ

لیکوال : اجمل یوسفزی

د چاپ شمېر : پنځه سوه ټوکه

[illegible] : 2002 جون

دویم چاپ : 2004 مې

کمپوز او ډیزاین: ذبیح الله "وردګ"

د کمپوز ځای : میرزاخان کمپوزنګ سنټر
یونیورسټي روډ ګل حاجي

لاړه

د خپرېدو حقوق له لیکوال سره محفوظ دي

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پیژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : ارگ یا مرگ

لیکوال :اجمل یوسفزی

د چاپ شمېر : پنځه سوه ټوکه

نېټه : 2002 جون

دویم چاپ : 2004 می

د کمپوژ ځای : میرزاخان کمپوزنگ یونیورسیټي روډ گل حاجي

د خپریدو حقوق له لیکوال سره محفوظ دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالـــۍ!

د کابل هغه ټولو شهیدانو ته چې په دا وروستۍ لسیزه کې یې هر یو د خپل خواږه ژوند نعمت د خپلو مسلمانانو ټوپکوالو د چوکۍ (ارګ یا مرګ) په شوق کې د لاسه ورکړ. هغې ناهیدې ته چې د څلورم پوړ نه په رالوېدو د معصومیت په جرم د خپل ورور د چوکۍ قرباني شوه؟! او ټولو هغو پرې حسنه افغاني ګلالیو پېغلو، کونډو او تورسرو ته چې د خپلو ورونو د چوکۍ په مینه کې یې مېړونه او زامن شهیدان، کورونه یې وران، عزت یې پایمال او بلاخره سوالګرې شوې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقدمه

ګرانو لوستونکیو:

په ګران افغانستان کې څه تېر شوي او لا تېرېږي، د دغه حماسو، ویاړونو او ورسره په هغو ویاړونو او فجایعو باندې یو څه لیکل او تاریخ ته سپارل یې هم یو لازمي امر دی .

لمړی: چې راتلونکی نسل د خپل ابا او اجدادو له کار نامو خبر شي او د هغوی په رڼا کې خپل ژوند عیار کړي، یعنې په ښو یې وویاړي او ځان د هغوی په نقش قدم برابر کړي او له بدو او ناکامیو یې عبرت او تجربه حاصله کړي او په دغه ډول ځان او راتلونکی نسل له ښویدو او ناکامیو وژغوري .

دویمه ګټه یې دا ده چې د خپل جغرافیې، قومي او تاریخي پېښو تر څنګ د خپلې ژبې، مذهب او فرهنګ سره سړی هم اشنا کوي. زمونږ ګران هېواد چې په تاریخونو کې یې پرته له جنګه بل څه نشته او هغه هم ډېر لږ یې د افغانانو له خوا لیکل شوي او زیاتره یې د خارجي تاریخ پوهانو له خوا لیکل شوي، نو چې داسې ده ښکاره خبره ده، چې د خارجي پوهانو شخصي افکار او اغراض به په کې خامخا نغښتي وي یو انګریزي، چنګیزي او روسي به څنګه په دې په پوره اخلاص او صداقت اعتراف وکړي چې مونږ (یرغلګر) په دې خاورې کې داسې بدبد راګیر شو او د دغه غېرتي قوم د لاسه تنې تنې او ... ژوندي مو په تېښته بریالي او مړي مو ورپاتې شول. په هر ترتیب خبره نه اوږدوم ما چې دغه کتابګی لیکلی زه خپله نه پوهېږم چې دا به د ادب په کوم ډول کې راشي، او څومره به ادبي او غېرې ادبي وي. یوازې او یوازې د یو دردېدلي او سپېڅلي احساس په بنا لیکل شوی د کمیت په ځای کیفیت، مانا او مفهوم ته ډېره توجه شوې او ډېر کوښښ شوی چې د دې څو کالو بزکشۍ، چې په مظلومو او بې دفاع مؤمنو افغانانو او په ځانګړې توګه د کابل په ښاریانو د سپېڅلو او پاکو شعارونو او لباسونو لاندې وشوې یو واقعي او رېښتونی انځور وي او تاریخي بڼه غوره کړي. چې د یوې ډرامې په توګه دغه ټول ښاغلي لوبغاړي د عالي او مقدس هدف نه انحراف او رو رو د خپل شخصي، قومي، سمیزي، او ژبنۍ، تربګنۍ له مخې اسلامي خو لا څه چې حتی له انساني دایرو او چوکاټ نه اوځي او د دغه نعمت (جهادي ګټاټې) د کفران په جزا کې یې اخر حق تعالی د ډېرو خوارو او بې وسو خلکو د قهر او غضب په پایله کې تباه کوي که همدایې نفسانیان وي او لا به ذلیله کیږي. نور نو قدرمن لوستونکي او خپل نظر یې، خو مونږ وایو او بلکې په دې عقیده یو، دغه ملت، چې د څه لپاره دغه لویه او نړیواله قرباني ورکړې هغه هیلې به خامخایې که خدای(ج) کول یوه ورځ نه یو ورځ پوره کېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی برخه

جنابه استاذ صاحب!

ستاسې د وینا او سلا په بنیاد مو خپلو ټولو پلویانو ته مکتوبي خبر ورکړ، چې د یوې جرګې په بڼه دلته راټول اوستاسې مشرتوب د ټول قوم په استاځیولۍ قبول او اعلان کړي .

استاذ: ښه دا خو ډېر ښه کار شوی مګر له جنګونو مې خبر کړه، چې همدا اوس چېرته او د چا په ګټه روان دي؟

جنابه هېڅ اندېښنه مه کوئ دښمن د ډېر کلك مقاومت په پایله کې یو څو ګامه مخکې راغلی و مګر زمونږ د جنګیالیو مشر ډېر زړور او تکتیکي سړی دی دښمن ته یې غاښ ماتوونکي ګوزارونه ورکړل او بېرته په شا وتمبېدل .

استاذ: نه، چې بیا لمړی لیکه را ماته کړي؟

نه تاسې ډاډه اوسئ داسې به هېڅ کله ونه شي او خدای مه کړه که هغوی را مخکې هم شي په تش ارګ به څه وکړي په څه پسې، چې هغوی هم پښې را لوڅې کړي هغه همدا چوکۍ ده .

استاذ: آیا دښمن خبر دی چې چوکۍ اوس زمونږ سره سیاره او ګرځنده ده؟

ګمان نه کوم چې دقیق دې خبر وي .

جنابه ما مخکې عرض وکړ چې ډاډه اوسئ هېڅ اندېښنه مه کوئ زمونږ تکتیکونو ته دښمن څه، چې شیطان هم ګوته په غاښ دی .

استاذ: نه نه ماسره هېڅ اندېښنه او د خطر څه فکر نه شته. فقط غوښتل مې که جنګ له مانه لیرې وي او لمړی لیکې ښې ډاډمنې وي نو چې ځان لږ لمرته ورښکاره کړم .

میاشتې وشوې، چې په څمڅو ورننوتلی یم، د هډوکو په درد اخته شوی یم باور وکړه چې د ملا او د پښو له درده مړ شوم .

ډېره ښه ده تاسې کولای شئ چې لمرته ځان ښکاره کړئ .

استاذ: خیریوسې فکر مه کوئ لیرې نه ځم فقط د څمڅې خوله کې کښینم شا به لمر ته کړم مخ به مې د څمڅې او چوکۍ په لور وي .

ډېره ښه ده مقصد، چې ویښ اوسئ وخت ډېر حساس او خاص دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوې خوا که جنګ ډیر حساس روان دی او د دښمن ګوندوه کېدل حتمي دي له بل پلوه مو رښتیا ډېر مشاران هم راغوښتي چې ستاسې مشري پرې ومنو .

زمونږ د جنګیالو مشر ډېر زیرك او هوښیار دی، نه مو دي اوربدلي چې وايي د اړتیا په وخت کې به هندو ته خو لاڅه چې خره ته به هم بابا وايې هغه د دښمن د راپرزولو لپاره له خپلو ډېرو دوستانو او خواخوږو سره لیدنې کتنې او ژمنې کړي. د اړتیا په وخت کې به موږ ته ټول لاس په نام وي زمونږ اړیکې اوس ډېرې پراخې او رېښې مو په هرې خوا ځغلېدلي دي افسوس زمونږ په تېرو شپېږو څومره غفلت مو کړی اوس موقع په لاس راغلې باید غفلت ونه شي دا ځل لټې مو د تل لپاره مرګ دی او ګټه به مو هم د تل لپاره عبرت وي، ټینګ عزم غواړي متې مو رانغښتې دي خو تاسې ته دې خدای ډېر عمر درکړي، چې مونږ دې په خپلو لاسو پر تخت کښېنوو او په دغه ډول ستاسې او زمونږ وروستی ارمان پوره شي .

استاذ: مګر ما ته دا کار ډېر ناشونی او ستونزمن ښکاري نه شي چې هم سر لاړ شي هم سرسر مطلب دا چې که مونږ د خبرو لار غوره کړی وای ښه به نه وه؟

جنابه په جنګ کې مړي کېږي، د حقوقو غوښتنه او د ځان منل په یو چا یا قوم څه اسانه خبره نه ده د آزادۍ فصل د وینو باران غواړي دغه چوکۍ په خبرو مونږ ته چېرته رارسي چېرته غزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان دا د سرونو د لو او د وینو برکت او زور دی چې اوس ستاسې په اختیار کې ده زمونږ پرېکړه یا ارګ یا مرګ دی او دا مو عزم دی او تصمیم د بري لمړی شرط دی ډزې په قراره نه کېږي توکل په خدای اوس خو هسې هم په اوبو ورګد شوي یو ښه ده تاسې اوس لمرته شئ زه به نوي حالات وڅارم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه برخه

جنابه مشر صاحب!

مبارك موشه، څه چې مونږ غوښتل هماغسې وشول ټولو قومي او جنګي مشرانو په یوه خوله تاسې د مشرتابه او واکمن په توګه وټاکلې او دعا یې وکړه، چې ستاسې سیورى دې خداى زمونږ له سره نه کموي .

استاذ: ښاغلیه زه وایم که خوب وینم خو فکر کوم چې ما کله داسې خوب هم نه دى لیدلى، داسې څنګه کېداى شي ما سره خو خپله آّینه لاس کې ده ما ته ځان ښکاري ما ته خپله ځان د دې وړ نه ښکاري دوى ته؛ نو څنګه وړ ښکاره شوم آّخر جنایت، بې رحمي او وحشت هم حد لري او که یه؟

جنابه تاسې یې څه کوي په خبرو پسې مه ګرځه ما مخکې عرض وکړ، چې فکر مه کوئ امکانات هر څه برابروي ډېر ناشوني کارونه به شوني شي نه مو دي اورېدلي چې پېسه هرڅه کوي د دغه قوم خو پېسه مرګ هم دى او ژوند هم .

استاذ: نه زه پوه شوم چې پېسه حکومت کوي نه مونږ، مګر په زور ګنې حکومت کېږي دا خو داسې مانا لري چې یو سړى

د خپل کور مشر وي او دى داسې فکر وکړي چې ګنې د ټول قوم مشر دى زه وایم داسې نه شي چې یو سړى چا په حجره کې نه پرېښوده او هغه ویل چې آّس مې خان کره وتړئ، هسې نه چې هندو سترګى خداى ناراضه دا قوم د مچیو خوى لري که یو ځل راوپارېدې او زمونږ په مقصد پوه شول بیا نو زمونږ خیر نه شته ځکه، چې مونږ په نوك کې سوك ځایول غواړو په دومره لوى قوم د واکمنۍ خیال ما ته د شګو مزل ښکاري ګمان نه کوم که شونى شي؛ ځکه زما رېږه په همدوى کې سپینه شوې پوره تجربه لرم، همداسې ډېرې هلې ځلې او مجلسونه مونږ هم پخوا ډېر کړي هېڅ کله هم ډاډمن شوي نه یو؟ !

او په دې کې هم هېڅ شك نشته چې مونږ به ګنې واکمن نه شو ښایي د یو څه وخت لپاره یا په جنګ او یا په هغه دغه ځان پر ټول ملك وتپو او واکمن شو لکه دا اوس چې ګورې د ټول ښار په شلمه برخه هم زمونږ امر نه چلیږي زما د دې جمهوري چوکۍ څه ګټه شوه، چې لږ ترلږه د دې ټول واك سره د یو پخواني ښاروال هومره حیثیت هم نه لرم څوك مې په خوله د پیاز خوراك خو لاڅه حتى غوږ قدرې هم نه کروي او د دې پرته هغه دې ګوري، چې زمونږ سیاسي رقیبان هم ورځ تر ورځې را مخکې کېږي او زمونږ قوتونه په شا تمبوي دا خو لا یوازې زمونږ سیاسي دښمنان دي مګر دا هم د دوى د بې اتفاقۍ ځانځاني او بې علمۍ برکت دى، چې مونږ ترې تخت او تاج نیولى مګر په دې هم پوهېدل په کار دي چې دغه قوم هفته پام بولي، که چېرې لږ هم زمونږ په حرکت پوه شول، چې مونږ څه غواړو بیا پرې د هېچا دم دعا نه چلیږي او خیر مو نشته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا نه دغه خلکو سره زما ډېره ورانه ده اګر چې د یوه مذهب او عقیدې خلك یو مګر بیا مې هم دغه خلکو ته زړه نه سپینیږي باور وکړه چې د دغو خلکو نه راباندې... هم ښه لګیږي خو چاره څه ده له خدایه ځار شم چې له داسې قوم سره یې اخته کړي یو څه سر به دې خوږه وم .

ښایي اوس زما دا خبرې تاسې ته اوتې بوتې ښکاره شي مګر ما مخکې وویل چې زما ړېره همدلته سپینه شوې، زمونږ نیکونه دې خدای خوار کړي، چې د ګل په شان ښایسته وطنونه یې پرېښودل او دلته راتلل .

خیر ته مه خپه کېږه زه کله کله همداسې په احساساتو کې راځم دا ټولې ناخوالې مې له ډېره درده او افسوسه وکړې مطلب دا، چې زه اوس ستاسې د فکرونو او پرمختګونو خنډ کېدل نه غواړم زمونږ وخت او دا وخت ډېر توپیر لري یو خدای په یو حال وي اوس خو را پېښه ده او له پېښې تېښته نه وي ډېر ښه فرصت او زمینې اوس برابرې شوي فکر کوم دا ډېر ښه او مناسب وخت دی په هره قربانۍ او ځان تېرېدنه چې کېږي خپل حقوق باید لاس ته راوړو .

روسانو ته دې خدای خیر نه ورکوي کاشکې چې پخوا یې حمله کړې وای مونږ به هم لا په خوا بېداره او متحد شوي وای خیر اوس هم سرې وخت دی .

اوس خو له نیکه مرغه په کور کې د یو کورکي خاوندان هم یو مخکې که چا په خپل کور کې نه پېژندو اوس خو شکرالحمدالله په دووکې یادیږو. زما اصلي هدف دا دی چې اوس هم او له د ورخه تېرې نه دي هر څه کولای شو، ناهیلې نه یو خو شرط یې دا دی چې خو له باید یو رنګه وښوروو او کارونه بل رنګه اجراء کړو؛ ځکه چې پسته ژبه توره هم نه شي غوځولی مانا دا، چې زمونږ د سټېج او ممبر وینا باید یو رنګ وي او خپلې پرېکړې او جلسې مو باید بل رنګ وي .

زمونږ بله نیك بختي په دې کې ده، چې د روسي یرغل په دالویه غمیزه کې مونږ هم د دې ملك د آزادۍ لپاره لویه قرباني ورکړې، ډېرې ستونزې مو ګاللې خپلې سیمې مو آزادې کړې او په دې لاره کې مو ډېر ځوانان نذرانه کړې او ډېرې مېندې مو بورې شوې. اګرچې په تېروخت کې زما سره دا فکر دومره نه و او یوازې کوښښ مو دا و چې په هر ډول وي باید په لمړي سر کې غاصب قوت ماته شي مګر کله، چې الله تعالی ورځګ تر ورځې کافر دښمن په ګونډو کولو او زمونږ انډیوالانو خپلې سیمې ازادولې زما دا فکر پوخ شو، چې اوس باید دا نورې ډلې او مجاهد ورونړه هم له ځانه سره یوځای کړو. زما همدا نظر و ما ویل که په زر وي او که په زور وي باید چې دا ټول مشران د خپل جغ لاندې کړو په دې لاره کې زه د حکمت او سیاست ډېر پلوي وم .

خو زمونږ ځینو مشرانو ته دې خدای عمر ورکړي دوی به تل ماته ویل، چې دلته زور چلېږي او سرې سترګې به ګرځې نو بیا به درنه د خلکو حیا کېږي، زه اوس شکر اوباسم، چې هغه وخت مونږ داسې زورور او زړور مشران او نډیوالان لرل چې په خپلو شا او خوا سیمو کې یې د بل ګوند مشران او سړي نه پرېښودل ګنې اوس به مو څه کول چې په خپل کلي کې راته تربورناست وای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوف زه څومره ساده وم کله به، چې زمونږ د مجاهدينو له سيمې څخه د روسي فوځيانو قطارونه را تېر شول په هغه ورځ به زه ساده څومره عصباني وم چې ولې د دښمن لښکر روغ رمټ تېر شو او غازيانو پرې بريد ونه کړ .

که زه هغه وخت خبر واى چې کيسه څه ده او په دې پوه شوى واى چې دغه هر څه د روسانو سره د يوې معاهدې او تړون له مخې کېږي، نو ښايې، چې هغه وخت ما د خپلو همدغو دور اندېشو او هوښيارو انډيوالانو په ضد هم جهاد اعلان کړى واى، اوس پوه شوم چې سياست يعنې څه؟ !

ښه دى چې زموږ دښمن سره د پردې تر شا د انډيوالۍ او معاهدې لاس وو ګنې په دې حساسو شرايطو کې اوس دومره مرسته له موږ سره چا کوله. د امريکې خو همدومره انډيوالي وه چې خپل غليمان يې په مونږ باندې ګونډه کړل او بس. مطلب پوره او هندو غره .

اوس مونږ ته په کار ده چې يوازې د روسانو په مرستو اکتفا ونه کړو بلکې د هر هغه چا سره د دوستۍ لاسونه ورکړو، چې مونږ سره د دښمن په راپرځولو کې مرسته کوي که د پردې تر شا وي او که له مخې خو بيا هم ډېر احتياط په کار دى چې چا ته ثبوت په لاس ورنه کړو چې بيا به مو پرې دښمن هم وټکوي او هم به مو تاريخ تور پاڼې شي .

زه بيا هماغه خبره کوم چې خوله سمه او کارونه وران کول په کار دي زه ستاسو دغه ملي پاڅون او يووالى تائيده وم څناور چې په څلور بولي ځي هم ځانته مشر لري. او ستاسې په دغه سمبوليکه مشرۍ هم وياړم چې زما تر غاړې کړې موده .

زه د حکمت پلوي ځکه يم چې همدا اوس ګوره مونږ تقريباً په يوه کړۍ کې واقع يو د شاتګ په وخت کې پرته د آمو نه بله لار نلرو زما اندېښنه دا ده چې هوښياره مرغۍ په څو لومو کې نښلي.

بيا هم په کلکه وايم، چې دقت، احتياط او حکمت ډېر ضروري او بې احتياطۍ به مو خداى مه کړه د ګور په ارمان کړي او زه په دې وېرېږم، چې د نيمې ورځې حکومت د سلو کلونو کورونه ورانوي هسې نه، چې خپله هم بې کوره او آواره شو .

جنابه واقعاً، چې ډېرې پخې او دقيقې لارښوونې او خبرې مو وکړې مونږ ځانونه ډېر نيك بختان محسوسوو چې ستاسو غونډې دېو شخصيت د سيورې لاندې يو زمونږ باور دى، چې زمونږ د کرفصل به پوره خېږي او هغه په دې، چې ستاسو د لارښوونو سره سم مو هرڅه روان دي. مونږ، چې يو ګام مخکې اخلونو دوه ګامه خو ضرور بېرته ګورو ځکه مونږ په دې پوهېږو، چې په وړه خوله مو ډېرې لوى او غټې خبرې پيل کړي .

او د دغو لويو خبروسرته رسول هم احتياط غواړي او هم مېړانه او سرښندنه، تاسې ډاډه اوسئ، چې پروګرام او نقشې له مخې زمونږ کارونه لاتراوسه سم او مخ په بره روان دي او په دې هم پوهېږو، چې انګار تل د ايرو لاندې وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنابه ستاسې مشرولي زمونږ د احتیاط یوه بېلګه ده. وایي، چې د زرګر سل ګوزاره او د آهنګر یو مونږ، چې هر څه وایو خلك یې نه مني او را سره نه قانع کېږي .

مګګر تاسې که تور ته سپین، شپې ته ورځ او زمکې ته اسمان او اسمان ته زمکه وایي ستاسې د علمت او پوهې له مخې یې دا قوم ټول مني.

ستاسې د دې سپینې ږیرې، همت او پوی نه مونږ ډېره ګټه اخیستی شو شراب، چې څومره زړېږي ارزښت یې زیاتیږي او همدارنګه زمونږ په ټولنه کې چې سړی څومره سپین ږیری کېږي قدر یې ډېرېږي ستاسې هره وینا اوس مونږ ته د کیمیا هومره ګټوره ده زمونږ د پروګرام یوه لویه برخه دا ده چې په ممبر به تاسې خوله سمه ښوروئ او په میدان کې بیا زمونږ کارونه ګوره چې د ګوتې په ځای کې څنګه سوك منډو .

مونږ د حالاتو د جاج نه تاسې وخت په وخت خبروو .

مونږ په خپل بري ډاډه یو که خدای کول یوه ورځ به مو دا خوب رښتیا کېږي .

ښاغلیه زما ښه یادیږي کله چې ورکوټی وم نیکه مې دې خدای له ټولو حقدارانو سره وبښي هغه راته یوه کیسه کړې وه ویل یې په ځنګل کې د ټولو نه قوي حیوان زمری دی؛ نو ځکه خو یې ځان خپله پاچا کړی هم دی. زمري به تل د خپل خوراك له پاره نور حیوانات داړل او وژل، خو غوایانو چې به په منډه تري هم ځانونه نه شول پنا کولی د زمري د ظلم او زور د لاسه پوزې ته راغلي وو، یوه ورځ په خپلو کې جرګه شول سلا او مشورې یې وکړې چې څنګه ځانونه د زمریانو له ظلمه خلاص او خپل سرونه په امان کې کړي، نیکه مې ویل غوایان ډېر خون پور شوي وو، او په یوه خوله یې پرېکړه وکړه چې دوبخبرې دې راځي یا ارګ یا مرګ د هرې ورځې مرګ نه یوه ورځ مرګ ښه دی یا به تخت یا به تابوت شو. ټول راټول شول او په یوه غږ د زمریانو په لټه کې شول هر چېرې چې به یې زمری ولید ټول به پرې راټول شول او تر هغه به یې په لغتو او ښکرو واهه تر څو، چې به یې سا وخته په رښتیا چې د یوه او سلو خو نه ده برابره لنډه دا، چې غویانو ښه په همت ځنګل له زمریانو پاك کړ وروستی زمری، چې یې ښه له اخ او ټوخه ویست زمري مخ مشر خړ غوایې ته کړ او ویې ویل، زمریان خو هسې هم ټول د خپلو اعمالو په سزا ورسېدل، زما په مرګ به تاسې څه وکړئ زه به له دې وروسته ستاسې عسکر شم او هر هغه چا چې په ځنګله کې ستاسو نافرماني کوله سخته جزا به ورکوم .

خړ غوایی چې پر پچه ولاړ او د کشمیر ننداره یې کوله د زمري خبره یې زړه ته ولوېده او خپل عسکر یې کړ .

د ورځو په تېرېدو یې د برګ غوایي پسې واستوه، زمري چې غوایانو ته په زړه کې اچولې وه تر یو لږ ځنډ وروسته بېرته راغی او خړ غوایي ته یې وویل له تا قربان برګ غوایي ستاسې حکم ونه مانه او له ما سره ستاسې حضور ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضر نه شو خړ غوايی له ډېره درده کلي ويلي شو. او په قهر يې زمري ته امر وکړ چې ورشه او لاس، لاس يې کړه، زمري خو دغه شېبه له خدايه غوښته سم له واره ولاړ او په برګ غوايي يې مور بوره کړه .

همدارنګه بله ورځ يې د سور غوايي پسې واستوه زمري بيا چل وکړ له لرې څه ځنډه وروسته بېرته راغی او خړ غوايي ته يې وويل صاحبه سور غوايي هم ستاسې حکم ونه مانه او ستاسې په شان کې يې دا ګستاخي هم وکړه ويل يې که له ما سره يې کار وي هغه دې دلته راشي اوس ستاسې حکم ته سترګې په لاريم، د دې خبرو سره خړ غوايی بيا له ډېره قهره وپرسيد او زمري ته يې حکم وکړ چې سور غوايی هم درنه د ژوند څکه ونه کړي ورشه او کلمې يې وشيندہ. لنډه دا چې زمري خپل کار وکړ ټول يې په خپلو کې بې اعتماده کړل او يو يو يې له منځه يوووړل تر هغې چې د خړ غوايي لمبر راغی او پرستوني يې ورته خوله ښخه کړه .

د دې اوږدې کيسې نه زما مطلب دا دی چې پخواني خلك ډېر هوښيار وو ښايي زما د نيکه هم همدا مطلب و خو هغه وخت مونږ په دې خبرو چېرې پوهېدو .

په هر ترتيب زه وايم د غوايانو غوندې کم زوری او خوار مخلوق چې د زمري قوي باچاهي په اتفاق او حکمت له منځه وړی شي؛ نو مونږ به يې ولې نه شو مونږ خو شکر انسانان يو د عقل او فکر خاوندان يوهر کار چې په سا شي بې بلا شي .

جنابه تاسې ته يو وار بيا ډاډ درکوم، زمونږ ټول کارونه په مشوره روان دي. ډېر متوجه يوفقط ستاسې فتوی او دعا په کار ده عملي کول يې له مونږه غواړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېیمه برخه

السلام علیکم!

وعلیکم اسلام

جنابه څنګه یاستې دا څو روځې مو څنګه وې کوم ذره آرام مو وکړ او که یه!

مونږ سره تل ستاسې خیال وي مونږ خو ځوانانو یو د سختو تنګو د توانه یو مګر تاسې خو عمر خوړلی که رښتیا ووایم د نورو په پرتله تاسو سره د علم برکت دی یو څه ښه یاستئ .

استاذ: خوب، خندا او ارام خو مو د مرګه پاتې دی؟

او هغه ولې ما تاسې ته په وار وار ویلي چې هېڅ اندېښنه مه کوئ ستاسې څه غم دی مسته دې تازه ګرځې غم یې د لالي په سره غم خو زمونږ دی چې هر شېبه د مرګ او درد سره لاس او ګرېوان یو .

استاذ: نه نه نه پوه نه شوې شاعر وایي :

خوب خندا په بې غمۍ کېږي رحمانه

چې په زړه یې د یار غم وي څه به خوب کا

ما باندې خو خوب، خندا او خوښي د ملت له غمه حرامه ده. او بله دا چې ورمه شپه یو څو توغندې دلته نژدې راپرېوتل، ډېر زیات وارخطا شوم ما فکر کاوه چې خدای مه کړه دښمن تاسې ټول لاندې کړي یاستئ او یوازې زه پاتې یم او کېدای شي چې دښمنان زما په لټه کې وي مګر کله چې مې له څمڅې لږ سره را بهر کړ سړه سمخه وه او شا او خوا مو یو څو خپل انډیوالان ښکاره کېدل باور وکړه هماغه مې چې خوب الوتی تر اوسه حرام شه که مې سترګه بیا ورغلې وي په هر ترتیب له دې مې خبر کړه چې دښمن خو به رامخکې شوی نه وي؟!

نه نه جنابه زه هر ځل وایم چې اندېښنه مه کوئ، تاسې خو زمونږ د سر سیوری یاستئ که دښمن او یا د هغه ګوزار تر تاسې رارسیږي؛ نو دا به هغه وخت وي چې خدای مه کړه زمونږ په سرونو به میجنې شوې وي .

د ورمې شپې بې هدفه توغندي مونږ خپله راوتوغول کله کله داسې هم ښه وي چې انډیوالان یو څه زړور شي او غافله نه شي .

رښتیا توغندي دې را یاد کړل اصلاً زه د جنګیالیو مشر

د یوې مشورې لپاره ستاسې حضور ته راولېږلم. سیاست خو تاسې په خپله پوهېږئ چې ټول درواغ، چل، فرېب او غولولو ته وایي یعنې ویل یو څه او کول بل څه، مطلب دا، چې خپل هدف ته ځان رسول دي په هره لاره چې وي او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ هم په رښتیا او صداقت نه ګټل کېږي د دښمن د پرځولو لپاره به له هر تکتیك نه کار اخلي خلاصه دا چې د دښمن د بدنامولو او رسوا کولو لپاره به د هر ډول فارمول نه کار اخلو .

د دې لپاره چې دښمن ښه بدنامه شي مونږ غوښتل ستاسې نه مشوره واخلو، چې که مو خوښه وي د ښار په ګڼ میشتو سیمو به یو څه توغندي وروتوغوو؟!

استاذ: په دې کې خو ښکاره بې ګنا او بې دفاع خلك وژل کېږي.؟!

هو جنابه دا خو څرګنده خبره ده مونږ هم همدا غواړو ځکه دا کار مونږ ته په سیاسي لحاظ ډېره ګټه رارسوي په دې کې کوچنیان، تورسري او سپین ږیري وژل کېږي مونږ به یې د دښمن په خلاف تبلیغ کړو د خلکو به ورسره نوره هم کرکه زیاته شي هو رښتیا بله هم را یاده شوه .

د دې سره جوخت غواړو چې یو دوه جوماتونه هم د نښې لاندې راولو، چې دا هم د جنګ یو تکتیك دی او بیا دغه تخریبکاري په دښمن راواړوو .

استاذ: دا ته څه وایې ایا ماغزه دې په ځای دي؟

هو جنابه تاسې خوامه بده وئ مونږ فقط ستاسو د وینا او سلا مطابق خپل پروګرام روان کړی ستاسې لارښوونې ډېرې حکیمانه او فلسفیانه دي او واقعاً ډېر زړه سواند یاستئ که ستاسې یاد وي په خپله مو یو فارمول مونږ ته راښودلی و، تاسې ویل چې خوله سمه ښوروئ او کارونه وران کوئ مونږ کټ مټ ستاسې د وینا په پیروی کې دا کار غوره ګڼلی اوس ستاسې خوښه مونږ ته خو دا تر ټول ښه او کامیاب تکتیك ښکاري اګر چې د یو مسلمان لپاره واقعاً دا ډېره ګرانه ده مګر مخکې مونږ وویل چې سیاست وایي همدې ته زه وایم هدف او ارمان ته د رسیدو لپاره به دغه ډېره وړه قرباني وي چې مونږ ترې تېر شو زمونږ پرې څه ځې پردي بچې مري، د سورنچې خو فقط پوف دی .

استاذ: نه ښاغلیه زه نه وایم چې جنګ ګټې یوازې په مېړونو، او ومسایلو ګټل کېږي دغه به یې هم یو شرط وي دا منم چې د هر څه نه حکمت او تکتیك ضرور دی .

مګر زه وایم د خدای(ج) قهر او عضب خو په ځای پرېږده ولې د ښار خلك په دې نه پوهیږي چې د دښمن ګوزار تر دوی نه رارسیږي. زه وایم هسې نه چې خدای(ج) ته هم مخ تورن شو او ولس ته هم د هندو سترګی او خدای(ج) ناراضه کیسه به شي .

جنابه زمونږ د بحث مخکنی جنجالي او د شك موضوع همدا وه چې سیاست هدف ته رسېدل دي په هر لاره چې وي، مونږ سم دستي کولای شو چې د دښمن پسې تبلیغ پیل کړو چې نوی او قوي اسلحې یې ترلاسه کړي او اوس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي چې بې دفاع او بې ګناه ښاريان هم د خپل هدف لاندې راولي او حتى په خپله دغه شوم عزم كې سپېڅلو شعايرو او ځايونو د ويشتلو پرواګير هم نه دي .

استاذ: كه رښتا درته ووايم زه دې په خپل ايمان وبيرولم، په دې پروګرام كې بايد ډېر غور او فكر وشي، كه څه هم د داسې پېښو بېلګې موږ د نړۍ تاريخونو كې ليدلاى شو په دا وروستيو كې خپلې مشاهدې هم لرو خو د ننيو او پخوانيو حالاتو تر منځ بيا ډېر توپير هم شته روسان او د هغوی داخلي انډيوالان عملاً زمونږ سره جنګېدل د ملك واك د سرو كافرو سره وو، زمونږ دښمن په ښكاره د كفر بيرغ په لاس كې نيولى و؛ نو ځكه مونږ ډاډه او پرته د كوم شكه ويلاى شول چې ټول هغه خلك، چې د اسلام په خلاف يې د كفر صف قوي كړى واجب القتل دى ولو كه هر څوك وي مګر نن خو تاسره په مقابل كې كافر نشته روسان وتښتېدل او كورني كمونستان هم په ګونډو شول، خو بيا هم زه څه نه شم ويلاى د ګونګې په ژبه ګونكى ښه پوهيږي د جنګ په ډګر كې تاسې ياستئ كه د انډيوالانو سلا وي او د ورځني سياست تقاضا وي بيا خو ښه ده په دې مسئله كې زه زړه ور څه نه شم ويلاى ما لكه د يو شينواري په څېر د در بابا او د الله تعالى د ګرانښت په مسئله كې عاجز وبوله. بس جنابه ښښنه غواړم نور مونږ پوهيږو او خپل حكمت مو، د دغه تكتيك له عملي كولو وروسته به مونږ په راډيو كې د سپېڅلو شعايرو او بې وزله او بې دفاع ښاريانو په شهادت يوپيغام ستاسې له خوا خپور كړو او دغه عمل به په كلكه وغندو او د متضرره كورنيو سره به يو څه نغدې مرسته هم ستاسې له خوا اعلان كړو خلك به فكر وكړي، چې مونږ څومره زړه سواندى او شفيق مشر لرو؟!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورمه برخه

قدرمنو مؤمنو او مجاهدو هېوادوالو!

نن زمونږ د خاورې، عزت او د افغانستان د اسلامي دولت دښمنانو د کابل پر بې دفاع خلکو د خپلو شومو اهدافو د پلي کولو په خاطر د بې هدفه توغنديو بريدونه وکړل چې په پايله کې يې نه يوازې زمونږ په لسګونو بې دفاع ښاريان شهيدان او ټپيان شول بلکې ورسره يې يو شمېر مسجدونه هم شهيدان کړل، چې دغه وحشيانه کړنه په خپله د مکار دښمن جاه طلبي، ظلم، وحشت او بربريت څرګنده وي. خبر زياتوي چې دغه لړې واټن ويشتونکي توغندي د وطن او د اسلامي دولت د ښمنانو نوي د خپلو خارجي بادارانو څخه تر لاسه کړي او په دې ډول غواړي چې زمونږ د شريفو او مؤمنو وطنوالو وينې پرې توپې کړي او پرېنږدي چې دغه مظلوم ملت د امن په فضا کې سا واخلي او همدارنګه دشمن د خپل خاينانه سياست له مخې کابل ته په راغځېدلو عمومي لارو او سرکونو کې هم يو شمېرځنځيرونه او پاټکونه جوړ کړي او تجارو ته اجازه نه ورکوي چې د کابل ښاريانو ته خوراکي او د سون مواد را انتقال کړي چې د دښمن دغه غېرې انساني عمل د کابل يو شمېر بې وزله او نجيب خلك د يو لړ ستونزو سره مخ کړي دي .

د يو بل خبر له مخې، د اسلامي دولت دښمنانو د يو پلان شوي پروګرام له مخې غواړي چې د اسلامي دولت په ضد زمونږ د نجيبو خلکو کرکه او نفرت را پيدا کړي، چې د دغې نقشې د تطبيق له پاره يې د ښار په ځينو سيمو کې، په غلاګانو، لوټ، تالان او همدارنګه د ترهګرۍ په يو شمېر ناځوان مردانه عملونو لاس پورې کړي تر څو وضعه مخشوشه او په دې ډول زمونږ مؤمن هېوادوال د دولت په مقابل کې بغاوت او ګډوډۍ ته وهڅوي، په تاسف سره بايد ووايو چې د اسلامي دولت دښمانانو نه يوازې په لوټ، تالان، بې عفتي، ترهګرۍ او غلاګانو لاس پورې کړي بلکې د اسلامي دولت د عامې روغتيا وزارت د اطلاع په اساس دښمنانو يوه اندازه خوراکي مواد هم زهرجن او مسموم کړي چې د دغې غېرې انساني او غيرې اخلاقي جرم په پايله کې د روانې اونۍ په اوږدو کې زمونږ يو زيات شمېر بې دفاع، بې ګناه او بېوزلي ښاريان د شهادت لوړ مقام ته رسېدلي انا لله و انا اليه ... خو مونږ په ډاډه سره ويلای شو چې ژر به دغه ډول جنايتکاران د اسلامي دولت د ويښو او ديندارو مؤظفينو له خوا ګرفتار او د خپلو اعمالو په جزا به ورسيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه برخه

جنابه څنګه یاست زه خو بیا ستاسې حضور ته حاضر شوم، چې د تشویش د رفع کولو په خاطر تاسې ته نوي راپورونه، زېري، برياوې او یو څه پیغامونه در کړم.

استاذ: ښاغلیه! مخکې له دې چې تاسې ما ته څه ووایي ما بېګاه خبرونه واورېدل، دا څه حال روان دی خدای شته زه په خپل ایمان وېرېږم، غلا، بې عفتي، چور چپاول، قتل و غارت، وهل او... دا ټول جنایت یو خوا او د غریبو مسکینانو لپاره خوراکي مواد مسموم کول بل خوا اخر د انسانانو په تاریخ کې به تر دې هم لوی او بد جنایات وي؟!

هو رښتیا ته یوه شېبه انتظار شه په جماعت او په ډله خو لمونځ نشته زه به دا لمونځ لمړی ځانته وکړم، چې قضاء کېږي. ؟!!

وو جنابه بښنه غواړم مونږ ته دا هر شېبه د سر هومره بیه لري، لمونځ خو هر وخت کېږي ما اورېدلي خپله حق تعالی د هر څه نه زيات د خپل مخلوق په خدمت ډېر خوشالیږي مونږ خو د همدې رضا د حاصلولو په خاطر د خپل قوم خدمت ته رادانګلي، او دا دی ګورې چې شپه او ورځ مو په ځان یوه کړې .

جنابه بښنه غواړم مونږ هم هر وخت دا فریضه ادا کوو مګر کله چې شرایط حساس وي نو له تا څه پرده بیا مو حالاتو ته ډېره پاملرنه وي. خدای ناخواسته مونږ خو څه کافر نه یو که پنځه وخته نه وي نو یو ځل دوه خو یې مخامخا په ورځ کې کوو .

جنابه د ټوکو بښنه غواړم زه پوهېږم چې تاسې خوش طبعه یاست؛ نو ځکه مې خوش طبعي درسره وکړه، خو باور وکړئ چې ناست دلته یم مګر ټوله سودا مې د جنګ په لیکو کې بنده ده .

استاذ: ښاغلیه تاسې ونه ویل، چې د دغو غلاګانو، چورچپاول، بې عفتۍ... او خوراکي موادو مسمومونکي جنایتکاران مو پیدا او دستګیر کړل او که یه؟!

هو جنابه بخشش غواړم مشهور متل دی چې وایي د خپل کور غل نه نیول کېږي، مونږ سره خو فارمول دی او هر څه د هماغه پخواني فارمول په اساس روان دی خو له سمه او کارونه... دا ټولې غلاګانې، بې عفتۍ او ... مونږ د پورتنئ تصویب او منل شوي فارمول له مخې کوو. دا خو ټول ستاسې د مقدسې رهبرۍ او زمونږ د جنګیالیو د قدرمن مشر د تکتیکونو برکت دی چې مخ په بره او ښه په نره روان یو؟!

نو تاسې ووایئ چې په دې کې مونږ څوك ونیسو، به عرض معذرت تاسې جناب، که د جنګیالو مشر او که زه ځان کوم یو؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ: په هر ترتیب دا دومره د بحث وړ نه ده مونږ مکلف یو چې هدف ته ځان ورسوو په هره لاره او په هر شکل چې ممکنه وي دې ته وايي د ورځنی سیاست تقاضا په هر حال وايي سړی چې زوړ شي ماشوم ترې جوړ شي زمونږ اوس ږیره سپینه ده غرمه مو چې څه خوړلي وي هغه رانه بیا هیر وي پاتې لاتېرې خبرې تاسې نظامیان یاست په هر څه تر ماښه پوهیږئ. خو که حقیقت درته ووایم زه خبرونو ډیر وارخطا کړم ما فکر کاوه که چېرې حالت ښار کې همداسې ګډوډ وي؛ نو بیا دې خدای خیر کړي چې څه به پیښېږي، له تا څه پرده ما له وېرې تر اوسه روژه نیولې، او پرته له اوبو نور څه مې نه دي له ستوني تېر کړي ما ویل نه چې مسموم نه شم؟!

نه نه جنابه تاسې ډاډه اوسئ کله چې څه وي مونږ تاسې حتمي خبره و، پاتې شوه د راډیو د خبر خبره هغوی خو د دولت د خارجي او داخلي پالیسیو له مخې خپله خپرونه کوي، چې په درواغو او رښتیاوو یې بیا څوك سر نه خوږه وي .

استاذ: ښاغلیه! نه د سرخوږ څه مسئله نشته ګنې هسې خو اوس بلد شوی یو، په لمړي سر کې چې به مې د ځان خبر واورېد چې ویل به یې \"د اسلامي دولت مشر نن د فلاني قوم له یو شمېر استازو سره د ریاست جمهوري په مقام کې ولیدل\" او یا بل ورته کوم خبر خندا په راغله چې زه خو د میاشتو راهیسې د یوې چوکۍ سره په تورو څمڅو او لویو غرونو کې ناست یم دلته د قوم مشران او یا ... د کومه شول. اوس دومره عادي شوی یم چې هر څه اورم تبسم قدرې هم پرې نه کوم او پوه یم چې دا یو معمول او ضرورت دی مگر د دې ټولو برخلاف د مسموم خبر یو ځل بیا وبېرولم!!

خیر جنابه دا په یوه لوی دولت کې ډېرې ورې خبرې دي، ما مخکې ستاسې حضور کې عرض وکړ چې ناست له تاسې جناب سره یم مگر فکر، ذکر سودا او هر څه مې په جنګي لیکه کې دي .

استاذ: ولې څه خاص د تشویش وړ څه خو نه دي پېښ شوي؟!

نه نه جنابه د خدای فضل دی هېڅ نشته.

تاسې پوهېږي، چې دښمن زمونږ په خلاف ډېر زیات پوچ تبلیغ کوي او د همدې فحش او پوچ تبلیغ په اساس یې یو څه خلك زمونږ په وړاندې راپارولي دي، تاسې خبر نه یاست، زمونږ نوی راپور دی وايي دښمن غواړي چې زمونږ په سنګرونو یو ډیر پراخه او قوي تعرض پیل کړي په همدې منظور یې ډېر تشکیلات پیل کړي .

د همدغې راپور په اساس مونږ غواړو که ستاسې خوښه وي ټول هغه پلونه چې زمونږ د سنګرونو په لورې پراته دي له منځه یوسو او ټولې لارې له بمونو (مینونو) ډکې کړو؟!

استاذ: ښاغلیه رښتیا، چې هلکان یاستۍ فکرونه مو خام دي، همېشه داسې نیمګړي او رسوا پورګرامونه جوړوئ، چې په عملي کولو یې مونږ په خپله له شکست او عالمي بدنامۍ سره مخ کېږو. نه دې دي اورېدلي چې وايي مسجد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وران کړه او عامه لاره جوړه کړه د دغو پلونو په جوړولو به د دې خوار ملت څومره سرمایه تللي وي دا هر څه پرېږده مګر خلك به له مونږ نه په دې کار خوابدي شي؟

نه جنابه مونږ هېڅ کله په دې اعتراف نه کوو چې ګونديې دغه کار مونږ کړی بلکې دا پړه هم په يو ډول نه يو ډول د دښمن په جناياتو وراچو. تاسې مطمْن اوسئ چې مونږ خوله سمه ښور ووْ مونږ دغه تخريب، د ځان د ساتلو او دفاع په خاطر مشروع بولو، او دغه ورانول د جوړولو په نيت کوو. کېدای شي چې يو وخت يې له دې هم ښه جوړ کړو. هغه ورځ خو ليرې نه ده که د جنګ تغر ټول شو او مونږ خپل هدف ته ورسېدو بيا به يې د سترګو په رپ کې جوړول ووينئ. اصلي خبره زموږ د سرونو ده که داسې ونه کړو خدای ناخواسته د شکست په وخت کې به مو دښمن په سرونو ميجنې وکړي باور وکړئ چې مونږ سره ستاسې د صحت او سر وېره وي مونږ که وو او که نه خو تاسې د ټولو سرياست؛ نو ځکه دا کار ستاسې د دفاع او ساتنې لپاره روا بولو، زه خو په دې مسايلو ښه نه پوهېږم اوس نو ستاسې فتوی او زمونږ عمل .

استاذ: ښاغليه! تاسې واقعاً ډېر هوښيار او دور انديش ياست که چېرې مو راپور دقيق او کوټلی وي او د دښمن د غلبې وېره وي نو بيا هر څه چې د ځان، زما او د خپل قوم د حفاظت لپاره کولای شئ وېې کړئ؛ ځکه تاسې جنګياليان ياست د کارغه په ژبه کارغه ښه پوهيږي وايي اګر ضرورت باشد رواه باشد.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه برخه

کوکچه، کوکچه هلو کوکچه، که زما اواز اورې خپل نمبر ته ولاړ شه) .1(

اورم څوك کوکچه؟

وو پامیر کوکچه؟

اورم پامیر اسلام

وعلیکم اسلام

ته ځه خپل خصوصي نمبر ته شه له عمومي نه اوځه؟

درځه زه ولاړم؟

کوکچه کوکچه، پامیر کوکچه؟

اورم سلام

وعلیکم څه حال دی؟

بلکل خیر خیریت .

زما اواز څنګه درځي؟

بلکل چار او پنج؟ (ډېر ښه)

وضعیت څنګه دی؟

تر اوسه خو څه نشته هر څه زاړه په زاړه دي. فقط د معمول په څېر د وړو توپونو او راکټونو یوه نیمه ډزه سره تبادله کیږي .

دا دوه انډیوالان چېرې شپاړس (زخمیان ) شول؟

نن سهار وختي د دشمن د راکټ یوه مرمۍ راغله دلته زمونږ په مرکز کې ولګېده خو ښه و د خدای فضل و ډېر تاوان یې راونه رسوو فقط همدا دوه شپاړس شول چې ستاسې موقعیت ته مو درواستول .

د دښمن د تعرض او اکمالاتو په هکله مو څه نوي ترلاسه کړي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ خپله هېڅ مگر د کشف انډيوالانو راباندې غږ وکړ، چې دښمن يو ځو سنډاگان (ټانگونه) نوي مهار (را انتقال) کړي؟

ښه هلو څه شوې؟

اورم .

اونور څه؟

يو ډېر شمېر نوي پسونه (سرتېري) يې هم ليکو ته راوستي او گمان کوم چې لا راروان هم دي؟

دا نږدې انډيوالان يې ولې مزاحمت نه کوي؟

اورې؟

اورم

زمکې لمدې دي د موټرو گردونه نه ښکاري؛ نوځکه ډېر انداخت هم نه کوو اصلي هدف نه ښکاري .

ستاسې د کشف (مخابرې) انډيوالان څه وايي؟

هغوی هم د باران په وجه څه نه دي ليدلي لمر هم نشته چې ښېښې او اوسپنې وځلوي. فقط د هغه برو غونډيو په سر دوه سنډاگان وليدل شول د سلمان (فارسي) انډيوالانو پرې اوربل کړ خو په پته پوه نه شو چې څه وشول شل (محوه) شول او که شپاړس (تخريب)؟

خير يوسې، په ټولو غږ کوئ بېداره اوسئ دښمن سنډاگان او پسونه تيار کړي غواړي چې غوبل (تعرض) وکړي .

مونږ هم عشر (تشکيلات) راغوښتی، ټولو انډيوالانو په بډو گوتې وهلې او تياريو .

تاسې ته نوی (ا،ه، د، ح) جدول دررسېدلی؟

هوکې.

د فارس انډيوالانو ته مو رسولی؟

هوکي .

ډېر ښه په فارس همدا اوس غږ وکړه ورته ووايه چې نمبر اول (خراسان) وايي چې ستاسې په خوا کې چې څه باغونه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سرکونه) ټول له ګلانو (مینونو) ډك کړئ، چې سیلانیان ښه معطر (نابود) کړي .

کوکچه اوري؟

هوکې اورم

زما په خبرو دې سر خلاص شو؟

بلکل چار او پنج اطمینان دی .

مفهوم پوره افاده شو .

هوکې مطمین شئ .

بل يو ويشت (قومنده) دا دي چې ټول ټالونه (پلونه) دې بيخې شپاړس (بيخي تخريب) شي، چې پېريان غزني (دشمن راتېر نه شي) ته ولاړ نه شي په مطلب ورسېدي؟

سل په سلو کې مطمئن شئ .

فارس حاضر دی هغوی وايي چې شاهين (نظامي اکمالاتي کميسيون) ته ووايه چې مونږ ته د دغه يوويشت (قوماندې) د شپېتو ( تعميل) لپاره يوه اندازه ګوره (بارود) ژر څوارلس

( راوليږئ) کړئ څومره ژر چې څوارلس کېږي ښه به وي .

اطمينان ورکړه همدا اوس به يې مېږې (سرخي الوتګه) ور بار (ور انتقال) کړي. خو چې دوی پرې بيا ژر ټالونه (پلونه) شپاړس (تخريب) کړي .

تاسې مطمئن شئ د يوويشت ( قوماندې) په شپېتو(تعميل) کولو کې به هېڅ فرق (معطل) نه راځي .

تشکر کوکچه، ژرنده (مخابره) مه بند وئ څلوريشت ساعته دې چالانه وي .

صحيح ده مطمئن شئ .

فارس ته وايه په دې ورځو کې مو چې هر څه په خپل موقعيت کې ليدل واسکټ (وژل) کوئ يې، چې ورته ونه ګورئ، خدای حافظ .

الله دې مل شه.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**